## بسمل

بسمل دی کړم په پټو ا و په لوڅو اشارو
له ما نه دی زړه وړي په تمکین او په نخرو
له سترګو دی د مینی رمزونه را اوریږي
خلوت ته اداګانی ستا مي غواړي په غمزو
بی تا د بل چا میني په دام نه یمه انغښتی
دا ته وی چي دی جلب کړم په خندا اوپه کتو
ته هم په دي پوهیږي چي بی تا مي ژوند ګران دي
د ستا لید و په هڅو« مل» ډوب شوي په چرتو

* * *

جرمنی «2017-09-28»

## ناروا

خندا مي له خولي لاړ تا چي کله ما ته شا کړ
خپګان پر ما راغي دواړه سترګی مي ژړاکړ
غوښتل مي چي د تا سره مینه په رضا کړم
له تا مي هیله نه وه چي پر ما دی ناروا کړ
په زړه دي هیڅ ونه ګرځید پرما چي څه به راشي
له ما نه دی مخ واړول تنها دی په صحرا کړم
ښیری به درته نه کوم اوس هم پرما ګران یی
اوس هم ستاروغتیا ته«مل» لاس پورته په دوعا کړ

جرمنی «2017-09-28

## بی مزه

شیخه بس دی نصیحت ستا بی فایده دي
ټول وعدي ستا دروغ او واهمه دي

زه په تمه ستا د حور او جنت نه یم
ستا وعدې تول د اوها مو افسا نه دي
چیرته لاړ شه کوم ناپوه ته نصیحت کړه
ما ته ستا نصیحتونه طفلانه دي
ته داوها مو په دام کې را ښکیل شوی
نا لیدلی جنت تا ته ډیر خوږ شکرانه دي
ته د ښکلو د عشوی ځني ډاریږي
تا ته مینه د پیمخو کفرانه دي
*
«28-09-2017» جرمنی

## ورین تندی

په زړه دی که څه نه وای مسکي نه کیدي په شونډو
یا نه دی شرنګول خپل بنګړي په سپین مړوندو
چي نه ګوری مي سترګوته یوڅه خودی په زړه دي
چي لاری بدلوی له ما نه تښتی په ډیر منډو
دا نښی نښا ني ما سره د یا ری ستا رضا دي
که نه ستا څه حاجت وه پټیده ما نه په څنډو
له اوله ما خو مینه ښکاره کړي وه تا ته
«مل» ستا مینه منلي ډیر پخوا وه په ورین تندو
*****
«2017-09-29» جرمنی

## دآشنا غږ

یوغږ په غوږو اورم چي آشنا را ته راښکاری
پرما ښه لګیږي هسي زړه چي مي را غواړي
موجونه او طنین یې پاره وی می هوسونه
له ډیره خوشحالی دواړه سترګی می را ژاړي
دا نه چي دا آواز مي د ښکلي صنم وي ؟

له هغې چي مي په غوږ راځي دهغې کوکاري
ریښتیا چي دا آواز » مل «ځما دخپل صنم دي
چي سترګی مي دهغی له پخوا لاری څاري

جرمنی «2017-09-29»

## ژړلي

پرون مي تا پسی یاره ډیر ژړل ي دي
خا طر ته می ستا نا ز وادا راغلي دي
له شرمه مي په چیغو چیغو نشو ژړلي
د کلی خلک له ډاره چي پرما خندلي دي
یو ځل چي په مینه دچا زړه چا پسي لاړ شی
هغه بی ا د وصا ل په حسرت ځان بایللی دي
له هغي ورځی چي ستا سره «مل» آشنا شوي
هروخت می ستایادونه په خاطرخپل راوړي دي

جرمنی «2017 -10-04

## تالا

چي دی وسه رسید ه جفا دی وکړ
جفا څه چي ناروا دی پرما وکړ
یوشیبه دی پرما هم رحم ونکړ
درقیب په لمسون ډیر خطا دی وکړ
مینه ستا وه مي په زړه کي غوړیدلي
هیلی نه مي شو تر سر ګناه دی وکړ
له خپل کړني اخر به پیښیما ن شي
تا د «مل» د مینی بڼ چي تالا کړ

***

جرمنی 2017-10-05

## دمینی ارمغان

بانو لاندي خماری سترګی اور می په زړه بل کړ
په مینه روږده نه اوم یا ر پرما داخه چل کړ
**

حریرکمیس په تن سور تکری له غاړي تاوو
د عشق په ابا سین کي یی لاهو کړم بی پایاو
د شونډو په خندا سره غلا ځما دل کړ
په مینه روږده نه اوم یا ر پرما داخه چل کړ
**

وربل د پا سه ایښی وه بها ری سره ګلان
تور کړي په کاجل وه ښا یسته دواړه چشمان
رغبت د خپلی مینی یی ځما د زړه په تل کړ
په مینه روږده نه اوم یا ر پرما داخه چل کړ
**

حیا او شرم یی ویوړ له ما نه په کتو
پردی کړم «مل» له عقله د سترګو په غمزو
چي هغه کله په ناز سره پورته تور وربل کړ
په مینه روږده نه اوم یا ر پرما داخه چل کړ
***
جرمنی «2017-10-04»

## عبادت

انکار له میني انکار له حقیقت دي
مهراومحبت د مینوو عبا دت دي
مینه دزړونو دپیوند محرک دي

مفهوم د مینی الفت او محبت دي
د میني په مفهوم چي ته نه پوهیږي
داستا ناپوهی له هرنظره حماقت دي
مینوو دمیني په ارزښت ښه پوهیږي
چي ښکلو ته دهغه دزړه ارادت دي
ما «مل» دغه شعر عاشقانوته ویلي
ځما هم دمینی سره کلک رفاقت دي

***

جرمنی 2017-10-05

## میکده

د بیلتون ترخي ورځي میکده کي بیا میلمه کړم
تر هغه چي ځان فارغ د فراق له واهمه کړم
پیمانې مي کړه را ډکه له ترخي اوبو ساقي
سر په سرپیا لي راکه غوارم ځان چي زر نیشه کړم
نورمي زغم پاتي نه دي چي دحسرت اوښکی توی کړم
ترڅو پوری سوی رنګ خپل ،پټ له خلکو په پلمه کړم
خاطری یی چي را یا د کړم اوښکي نشم درولي
غواړم «مل» چي خپل ذهن په شرابو آسوده کړم

***

جرمنی 2017-10-05

## خوږه وی

دمیني په پیل کی احساسات په غلبه وی
مینو یو د بل په لید و او په ننداره وي
مینوو یو د بل په دیدار نه مړیږي
دمیني سکروټی په زګوکي ډیر توده وي
حیا او شرم ددواړوله پام وی غورځید لي

دزړونو په تل کي ډيرژورمينه میشته وی
پیوند ددوه زړونو«مل» په مينه سره کیږي
له شادونه هم مینه په مینوو کی خوره وی
****
جرمنی 2017-10-11

## سحر

پرما څه سحر کړي چي یی و وینم لرزیږم
پوښتني چي مي وکړي په خولوکی خپل لمدیږم
د مینی اغیزی یی رانه وړی عقل اوفکر
له ځا ن سره بی وختنه لیونو په څیر غږیږم
خبر له خپل ځا ن او چا پيريا له ځنی نه یم
هروخت چي مي راياد شي په څُرتوکی خپل ډوبیږم
دهغي دميني اورمي «مل» اوس زړه کی بل شوی
بیلتون نه یی په او رکي سر ترپا یه سوځیږم
****
جرمنی 2017-10-12

## نوی پیمان

چي زړه دی رانه وړي بیا مي هیڅ نه یی لیدلي
څپيړي د جفا ستا په مخ مي خپل خوړلي
وعده دي له یوسره دروغ او ټول خطا وه
له همدی غمه مي هر وخت ډیر بیواکه ژړلي
چي څه مي په زړه ګرځي له تا زړه می نه صبریږی
پخیل اراده نه یم زړه له واکه مي وتلي
راځه جانان پخلا شه چي پر «مل» یی ډیره ګرانه
یواځی بی له تا جا نا نه هیڅ نشم اوسيدلي

## جزا

جزا می دومره بس دی چي ګودر ته نه راځي
سلام می د ربیار په لاس هیڅ نه قبلوي
راتګ دی د ګودر په لار هر مازدیګر څارم
پوهیږم چي بیلتون سره ته ما ډیر ځوروي
په څه هیله او ارمان ما تا ته زړه ورکړ
له دی اوم بی خبر چي مي له پا مه غورځوي
ځواني کي دي لاهو کړم دناهیلی دریاب کي
د «مل» د رقیبا نو سره ښکته او پورته ځي

*** جرمنی 13-10-2017

## نامراد

افسوس ځما په حال چي په عشق کي نامراد شم
صنم را نه مخ واړو ل له دی غمه برباد شم
وفا را سره ونکړ دیدار نه یی محروم کړم
دزغم کنډول مي مات شوبی اختیاره په فریادشم
جفا نه یی تناکي مي د زړه په سر را وخوت
بیخود څیری ګریوان لیونی او نا ښا د شم
په زړه مي ارمان پا تي «مل» آشنا بی وفا شو
زه هم له ډیره غمه مهاجر په بل هیواد شم

***** جرمنی 13-10-2017

## نه دی وینم

چي هرخوا مخ اړوم نه دي وینم
ستا لید و ته په انتظار او کمین یم
تمنا مي د مینی تر سر نشو

له وصاله دی محروم فقیر مسکین یم
ستا د کا نی زړه پرما نرم نشو
ستا له کبر اوغرور خوارو غمګین یم
په هاله کی مي د سترګو نه ښکاریږی
غمځپلی«مل» پریشان ستا له ناورین یم
****
جرمنی 13-10-2017

## سزاوار

له صیاده ترحم هیڅ پکار نه دي
د خوبا نو په وفا اعتبا ر نه دي
دعاشق له رنځه خوند معشوقی اخلي
د پیمخ له دی سرشته انکا ر نه دي
چي تر دام لاندي د مینی تخم پاشي
دهغی نیت له مینی فرار نه دي
چي دمیني په ارزش څوک نه پوهیږي
«مل» هغه دمیني هیڅ سزاوار نه دي
**
جرمنی 14-10-2017

## ګل دانار دی

له تا مخ اړول غورځول ځان په انکار دي
ولی تیر شم له تا ښا یسته مي نګار دي
چي ته کله نا کله مرور کیږی له ما
هغه وخت دا دنیا ډیر پرما تیره اوتار دي
بی واسواسه تا سره می ژوند ښه تیریږي
تا سره اوسیدل هر موسم می بهار د ي

ومنه مى خبرى نور «مل» مه ځوروه
ستابارښوومى خوښيږى ښايسته ګل داناردي

***

جرمنى 2017-10-14

## په ژړاوه

له ما چي بيليد له ستركى سرى مي په ژړاوه
په چيغو ژړيد مه نه مى شرم نه مي حيا وه
د كلى خلک له هر خوا ننداری زمونږ كولي
زمونږ د ميني راز تول په خلكو كي رسوا وه
هره ورځ مازديګري مونږ يو بل سره ليد له
وعدى مو يو د بل سره په عزم اوپه رضا وه
پيوند مو د ميني ډير كلک او اوسپنيز وه
يعنى چي زمونږ مينه«مل» په صدق اوپه صفا وه

****

جرمنى 2017-10-14

## اورينه مينه

له شونډو دى خوله راكه چاته نه وايمه حال
وعده مي درسره دي قسم ستا وى په جمال
خلوت ته دى مى هيلى او ډيرهوس كيږي
په مخ مى چي وچلى د زلفو ستا شما ل
هغه ورځ مى اختر اوشپه پرما برات وى
چي دواړه سره وكړو مركى د ژوند په حال
نژدى سره كينينو دبيلتون نا خولى هير كړو
په عمر باور نشته «مل» تيريږى كال په كال

****

جرمنى 2017-10-16

## اوس ځي

لیونی چي دی له مینې شم اوس ځي
چي بی وسه اوډیر مسکینه شم اوس ځي
یوه ورځ مي هم له حاله خبر نه شوي
چي بیما ر او ډیر غمګینه شم اوس ځي
پاکي میني ته مي ستا ځواب به څه وي
چي نا هیلی دی له مینې کړم اوس ځي
ګوره مه ځه «مل» په غم مکړه ککړ
چي په تنګ دي ډیر حزینه شم اوس ځي

***

جرمنی 17-10-2017

## جفاوکړي

بیزار له تا نه کیږم که هر څومره جفا وکړي
له مینې دی نه اوړوم که هرڅومره خطا وکړي
ځما د ژوند رونق ستا ادا پوري ترلي
ته هم په دي پوهیږي که هرڅومره ریا وکړي
د تا سره رغبت مي محصول ستا د نخری دي
په مینه دی رسوا یم که هرڅومره حیا وکړي
بی تا نه لري «مل» بل ښکلی ته نظرهیڅ
پرزړه مي واک نشته که ته هم ناروا وکړي

**

جرمنی ۱۹-۱۰-۲۰۱۷